ليکوال: هانس کريستيان اندرسن

ژباړونکی: آصف بهاند

۲۰۱۵/۱۰/۰۱

# د سمندر وړه ښاپيرۍ

## (Den lille havfrue)

### دريمه برخه

لومړی خوشاله شوه او فکر يې وکړ: هغه به د سمندر په تل کې له ما سره پاتې شي، خو نا څاپه ور په ياد شول چې انسانان نه شي کولای په اوبو کې ژوند وکړي، تر هغو چې ځوان شهزاده د پلرونو ماڼۍ ته رسيږي، مړ به شي. ځان سره يې و ويل: نه، هغه بايد مړ نه شي.

پرته له دې چې ځان ته د ضرر رسيدو په باب انديښنه وکړي، د تالندې د غرمبا په شيبه کې د اوبو پر مخ د روانو ماتو شوو تختو له منځه په اوبو کې ښکته لاړه او بيا يې د څپو له منځ نه سر را وايسته. په پای کې يې شهزاده په داسې حالت کې پيدا کړ چې نور يې په توفاني سمندر کې لمبا نه شوای کولای، مټې او پښې يې ستړې او ښکلې سترګې يې تړل شوې وې، که د سمندر ښاپيرۍ نه وای ور رسيدلې، نو مړ شوی به و. وړې ښاپيرۍ د هغه سر د اوبو د پاسه نيولی و او ځان يې څپو ته سپارلی و چې هغوی هرې خوا ته يې وړي، وړي دې.

سهار وختي توفان غلی شوی و، د ماتې شوې کشتۍ يوه ټوټه هم نه ليدل کيده، لمر له سره رنګ سره راختلی و او د اوبو پر مخ ځليده، د لمر سرو وړانګو د شهزاده خړو غومبورو ته ژوند وباښه، خو سترګې يې هماغسې تړلې وې. وړې ښاپيرۍ د هغه ښايسته اوږد تندی ښکل کړ او په  نازولو، نازولو سره يې لامده ويښتان شا ته پورې وهل. هغې فکر وکړ چې شهزاده هغې مجسمې ته ورته دی چې دا يې په خپل واړه بڼ کې لري، بيا يې ښکل کړ او د هغه د ژوندي پاتې کيدو  هيله يې وکړه.

وړه ښاپيرۍ اوس له کلکې مځکې سره مخ وه او آبي غرونه چې په څوکو کې يې سپينې واورې داسې ځليدې، ته وا سپينو قانسانو  هلته ځاله جوړه کړې وي، ښکته لوري ته، د سمندر په څنډه کې شين ځنګل و او دا نه پوهيده چې د ځنګله تر وړاندې کومه کليسا ده که کومه صومعه، هر څه چې و، خو هلته يوه ودانۍ وه.

په بڼ کې د ليمو او مالتې ونې هسکې شوې وې او د بڼ د لوی وره په مخ کې د خُرما جګه ونه ولاړه وه، سمندر کې دلته داسې وړوکی خليج جوړ و چې ډير آرام، خو ژور و او په داسې ژورې درې پای ته رسيدلی و چې هلته ښايسته سپينه مينځل شوې شګه پرته وه. وړې ښاپيرۍ په لمبلو سره شهزاده د اوبو څنډې ته يووړ او په پستې شګې باندې يې وغځاوه او هڅه يې وکړه چې سر يې له اوبو لرې او تاوده لمر ته ونيسي.

په هغې لويې سپينې ودانۍ کې زنګونه وکړنګول شول او يوه ډله ځوانې نجونې بڼ ته ننوتې، وړه ښاپيرۍ لږ لرې د هغو تيږو شاته ورغله چې په اوبو کې يې سرونه ښکاريدل، سر او سينه يې په سمندر کې پټ کړل چې وړوکې څيره يې څوک و نه شي ليدلای او ځار يې کاوه چې څوک به په خوارکوټي شهزاده پسې راشي.

لږ ځنډ وروسته يوه ځوانه نجلۍ هغې خوا ته راغله، اول داسې ښکاريدله چې ډاره شوې ده، بيا يې نور خلک را خبر کړل. وړې ښاپيرۍ ليدل چې شاهزاده ژوندی دی، سترګې يې خلاصې کړې، شاو خوا ته را ټولو شوو کسانو ته يې وخندل. وړه ښاپيرۍ چې په سمندر کې پټه وه، شهزاده نه پوهيده چې دی هغې ژغورلی دی، ځکه يې موسکا ورته ونه کړه. کله چې نجونو شهزاده لويې سپينې ودانۍ ته بوته، وړه ښاپيرۍ ډيره خواشينې شوه او په لمبا د سمندر تل ته، د خپل پلار ماڼۍ ته ور ستنه شوه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

وړه ښاپيرۍ چې پخوا هم چورتي او آرامه وه، اوس له پخوا نه هم آرامه او چورتي شوه. خويندو يې له دې نه د ابوسر ته د لومړي ځل ختلو د ليدلو شيانو پوښتنه کوله، خو هغې ځواب نه ورکاوه.
څو سهاره او څو مازديګره هغه ځای ته لاړه، چې شهزاده يې هلته پرې ايښی و. هغې وليدل چې د بڼ ميوې پخې او ټولې شوې، هغې وليدل چې د لوړو غرونو پر سر واورې ويلې شوې، خو بيا يې شهزاده و نه ليد او له پخوا نه غمجنه کور ته ستنه شوه. يوازينۍ خوښي يې په خپل وړوکي بڼ کې د هغې مرمريني مجسمې څنګ ته کيناستل او د هغې پر سر باندې لاس تيرول و، چې شهزاده ته ور ته وه. هغې نور ګلانو ته پاملرنه نه کوله، ګلانو په خپل سر وده کوله، ټول ځايونه يې پټ کړل، د ګلانو څانګې او پاڼې له ونو را تاو شوې او بڼ بيخي تياره شو.
نور چې وړې ښاپيرۍ خپل غم ونه شو زغملای، پيښه يې له خپلې يوې خور سره شريکه کړه. ډير ژر ټولې خويندې د هغې له راز نه خبرې شوې. بل چا ته يې څه و نه ويل، خو دا راز يې يوازې څو تنو هغو سمندري ښاپيريو ته و وايه چې له دوی سره يې نږدې اړيکې درلودې. له همدې دوستانو نه يوې يې شهزاده پيژانده. هغې ښاپيرۍ هم د شهزاده د کليزې جشن په کشتۍ کې ليدلی و او پوهيده چې شهزاده چيرې دی اوسيمه يې کومه يوه ده.
نورو شهزادګيانو و ويل:«راځه وړې خورې!» لاسونه يې يو د بل پر اوږو ايښي وو، په يوه اوږده کتار کې په لمبلو لمبلو د اوبو سر ته، چيرې چې د شهزاده ماڼۍ وو، سرونه له اوبو را پورته کړل.
د شهزاده ماڼۍ له ژيړو سوربخونو تيږو او زينې يې له مرمرو نه جوړې شوې وې. د ماڼۍ په يوه خوا کې زينې تر سمندر پورې غځيدلې وې. د ماڼۍ زرين ګنبدونه د آسمان په لوري اوچت شوي وو، د ماڼۍ په شا و خوا کې د ولاړو پايو په منځ کې داسې مرمريني مجسمې ولاړې وې چې ټولې ژوندۍ ښکاريدې.
د اوږدو روښانه کړکيو د شيشو له منځ نه، سرې کولای شول چې ډير ښکلي سالونونه و ګورې چې پر ديوالونو باندې يې وريښميني پردې او د لوړې بيې فرشونه را زوړند وو. ټول ديوالونه په ښکلو او لويو نقاشيو سمبال کړای شوي وو چې ليدل يې خوندور و. د سالون په منځ کې لويه فواره وه چې اوبه يې د شيشه اي ګنبدې تر پاسنۍ برخې پورې جګيدې. د لمر وړانګې له شيشه اي ګنبدې نه په اوبو او شنو بوټو باندې ځليدې، چې د فوارې په حوض کې را شنه شوي وو.
وړه ښاپيرۍ اوس پوهيده چې شهزاده چيرې ژوند کوي، د همدې له پاره به ډير ځلې مازديګر او د شپې له خوا د اوبو مخې ته راتله او دومره به يې د سمندر څنډې کې لمبل چې هيڅ خور يې تر هغه وخته پورې جرآت نه و کړی چې داسې کار وکړي. هغه به تل د مرمريني صوفې لاندې کانال ته ورتله چې د صوفې سيورۍ به وربانديې راغلی و. وړه ښاپيرۍ هلته کيناسته او ځوان شهزاده ته به يې کتل چې دې فکر کاوه د سپوږمۍ رڼا ته يوازې ناست دی.
ډيرې شپې يې ځوان شهزاده په خپله شانداره کشتۍ کې وليد چې له موسيقي او رپانده بيرغونو سره په اوبو کې روان وي. هغې د شنو بوټو له منځ نه په غلا سره کتل او که باد ډير ځنډ وربانديې لګيدلای وای او چا ليدلې وای، نو داسې ښکاريده او اټکل يې کاوه چې دا به يو قانس وي چې وزرونه يې غوړولي دي.
هغې په شپو شپو د کب نيوونکو خبرې اوريدې هغوی د شهزاده په هکله ښې خبرې کولې. وړه ښاپيري خوښه وه چې د اوبو له څپو نه يې له حالة تللی شهزاده ژغورلی دی ، هغې ور په ياد کړه چې څه ډول يې د شهزاده سر پر خپل ټټر باندې کيښود او په څومره مينه يې ښکل کړ، خو شهزاده د ځان د ژغورلو په هکله په څه نه پوهيده او حتی په خپل ذهن کې د سمندر د ښاپيرۍ د يو انځور په باب هم فکر نه شو کولای.
د سمندر د وړې ښاپيرۍ مينه نوره هم له انسانانو سره ډيره شوه او ډيرې هيلې يې په زړه کې و غوړيدې چې سمندر پريږدي او د انسانانو په منځ کې ژوند وکړي. هغې فکر کاوه چې د انسانانو نړۍ د دې له دنيا نه لويه ده. انسانان کولای شي چې له کشتۍ سره د سمندرونو د پاسه وګرځي، لوړو آسمان څکو غرونو ته، چې تر اورو هم جګ دي، وخيژي، د هغوی سيمې ډيرې سترې، له کروندو ډکې او په ځنګلونو پوښلې دي چې تر څو سترګې کار کوي، تر لرو ځايو پورې غځيدلې دي. زړه يې غوښتل په ډيرو شيانو پوه شي، خو خويندو يې نه شو کولای له دې سره ډيرو شته پوښتنو ته ځواب ورکړي، نو يې له زړې نيا نه و پوښتل. نيا به د مځکې مخ ته پاسنۍ نړۍ ويله، او همدا نيا وه چې له نورو نه يې ډيره پاسنۍ نړۍ پيژانده.
وړې ښاپيرۍ نيا و پوښتله:«که انسانان نه ډوبيږي، هغوی کولای شي د تل له پاره ژوندي پاتې شي، آيا زموږ په څير نه مري؟»
نيا ځواب ورکړ:«هوکې! انسانان هم مري، د هغوی ژوند له موږ نه هم لنډ دی. موږ کولای شو درې سوه کاله ژوند وکړو، کله چې موږ مرو، د سمندر په تل کې په حباب(ځګ) باندې بدليږو. موږ نه شو کولای آن هغه څوک خښ کړو چې پر موږ ګران وي، موږ تلپاتې روح نه لرو، موږ په بله نړۍ کې ژوند نه لرو. موږ د شنو بوټوغونډې يو،



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چې يو وار غوڅ شي، بيا به را شنه نه شي!خو انسانان بر عکس تلپاتې روح لري، وروسته له هغه چې د هغوی وجود خاورې شي، ارواح يې روښانه آسمان ته ځي، چيرې چې ځليدونکي ستورې دي! همداسې چې موږ د اوبو له منځ نه را وزو، څو د انسانانو د اوسيدو ځای و ګورو، انسانان هم يوې نا پيژاندې نړۍ ته ځي، چې موږ يې هيڅکله د ليدلو چانس نه لرو.»
وړې ښاپيرۍ په خواشينۍ سره و ويل:«موږ ولې بايد تلپاتې روح و نه لرو؟ زه چمتو يم خپل ټول درې سوه کاله عمر ورکړم او يوازې يوه ورځ انسان اوسم، څو و کولای شم په جنت کې د ځان له پاره يو ځای تر لاسه کړم.»
زړې نيا و ويل:«تا سره نه ښايي چې د دې شيانو په باب انديښنه وکړې، موږ د ځمکې د مخ له انسانانو نه ډېر نيکمرغه او ښه ژوند کوو.»
وړې ښاپيرۍ و ويل:«زه به مړه شم او په ځګ(حباب) به بدله شم او هيڅکله به د څپو غږ وا نه ورم، ښايسته ګلان او ځليدونکي سور لمر به و نه وينم. داسې څه کولای شم چې تلپاتې روح پيدا کړم؟»

د دريمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ